مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

احسان الله اریزی ۲۰۲۱/۱۲/۱۸

# د ماکسیم ګورکی په هکله

الکسی ماکسیمویچ پشکف چې د ادبیاتو په نړۍ کې د ماکسیم ګورکي په نامه پېژندل شوی، د روس- شوروي اتحاد ډېر نامتو لیکوال، د کال 1868 د مارچ په 28 نېټه د نیژني نوګرد Nizhniy Novgrad د ښار د یوه ترکاڼ په کور کې زېږېدلی دی. اوس دا ښار د دغه ستر لیکوال په ویاړ د (ګورکي) په نامه یادېږي.
ګورکي لا ماشوم و چې مور او پلار یې مړه شول او دی د (نیا) او (نیکه) په سیوري کې 9 کلن شو. ګورکي له دی ګډ ژوند څخه داسې نه هیرېدونکې خاطرې لري چې په لیکنو کې یې له ورایه ښکاري.

ګورکي په کال 1877 کې د نېکه له کوره لاړ او لالهانده ژوند یې غوره کړ. داسې ښکاري چې د ګورکي د ماشومتوب او نوې ځوانۍ ژوند په ډېرو کړاوونو کې تېر شوی دی، ده د ډېرو ستونزو له امله یو ځلې د ځان په وژلو هم لاس پورې کړی؛ خو بېرته ژغورل شوی دی. له دې وروسته ده ځان ته د (ګورکي) تخلص وټاکه چې په روسي ژبه د (ترخه سړي) مانا ورکوي. ګورکي د خپل نېکه له کور څخه تر وتلو وروسته، راز-راز کارونه هم کړي: د ډوډۍ پخولو هټۍ، د سوداګر دفتر، پلورنځی، رستوران، د انځورونو داسې دکان چې کلیساوو ته یې کار کاوه او د والګا په بندر کې د کار ګرانو د لوښو وینځل.

ګورکي ښوونځي ته ډېر نه و تللی او د لوړو زده کړو چانس هم نه و ورته برابر شوی؛ خو دده په خپله ژبه (ژوند ده ته د (ښوونځي) حیثیت درلود.

ده له ماشومتوب څخه د ژوندانه له ستونزو څخه ډکې تجربې کړې او د انساني ژوند او کاریګرو په هکله یې ستره مطالعه کړې ده. د دی تجاربو او مطالعاتو اغېزې د ده په ډېرو آثارو کې له ورایه لیدل کېږي. همداراز روسي ولسي سندرو او د نیاګانو کیسو هم په ده باندې ژوره اغېزه کړې او د ده د لومړنیو منظومو آثارو سرچینې بلل کېږي.
ګورکي په کال 1884 کې د (قازان) پوهنتون ته لاړ. دی هلته له مارکسیستي ادبیاتو سره اشنا شو او د دی ایدیولوژي د تبلیغ له پاره یې کار پیل کړ.

ګورکي په کال 1888 کې له انقلابي کړیو سره د اړیکو په تور بندي شو. دی له خلاصون څخه وروسته هم تر ډېره وخته پورې د استخباراتو د څارګرو تر نظر لاندې و او د کار ډېره خپلواکي یې نه درلوده.

ګورکي په کال 1891 کې د خپل هېواد د پېژندنې سفر پیل کړ او د روسیې له شمالي سیمو څخه تر قفقازه پورې وګرځېد. په همدې وختونو کې ده په خپل ځان کې د لیکوالي د ستر استعداد سمندر په څپو ولید او قلم ته یې ګوتې کړې. د ګورکي لومړنی اثر د ماکار چودرا Makar chvdra په نامه د قفقاز د تفلیس (جورجبا) په یوه سیمه ییزه روځپاڼه کې خپور شو. ګورکي وایي چې دا نیم رښتیا، نیم تخیلي رومانتیك اثر، هغه وخت د ده د ډېرو شعرونو په څېر د خپلواکي سرود بلل کېده. ګورکي په تفلیس کې ځینو روځپاڼو ته مقالې او لنډ داستانونه لیکل. کله چې دی بېرته نیژني نوګرد ته ستون شو، د والګا په اخبار (ولژسکي ویستیك) ،د سامارا په روځپاڼه (سامارسکایا ګازتا) او د نیژني نوګرد په لیك پاڼه (نیژیګرودسکی لیستیك) کې یې خپلې لیکنې خپرولې. ګورکي په کال 1895 کې د لیکوال او ژورنالیست کارالنکو د پام وړ وګرځېد او د ده نامتو داستان (چلکاش) Chelkash یې په سن پترزبورګ کې خپور کړ. له چلکاش څخه وروسته ګورکي د (زړې بوډۍ)، (د شهباز سرود)، (د ارلفیانو واده)، (کاناوالف) او (فوما ګردییف) داستانونه ولیکل چې دی یې د یوه تکړه لیکوال په توګه په خلکو وپېژاند. په کال 1899 کې د (وارنکا) داستان خپور شو. وارنکا د ګورکي د هغه کلونو په لیکنو کې ډېر ځانګړی ځای لري. په دی داستان کې بېوزله او



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

لالهانده څېرې نه تر سترګو کېږي، دلته لوستونکي له داسې يوه متفکر او ځيرك ښوونکي سره مخامخ کېږي چې يوه روغه، ښکلې، په ونه دنګه او د ژوند په ميو مسته پېغله پرې ګرانه شوې. دا پېغله (وارنکا) نومېږي. ښوونکی چې فکر کوي ډېر پياوړی سړی دی او پوره تقوی لري، د وارنکا په مينه کې له پښو غورځي.

ګورکي دا پېغله د بشر ساده او طبيعي انځور بولي او د هغې په ژبه خلکو ته وايي چې له خپل ساده او په زړه پورې ژوند څخه خوند واخلي. دا پېغله چې له ليك او لوست سره مينه لري، په خپل وړوکي ښار کې چې ټول په نالوستو خلکو ډك دی، له دی ښوونکي سره نژدې کېږي او تمه لري چې په ډېرو شيانو به پوه شي؛ خو يوه روځ د استاد په سترګو کې د شهواني غوښتنو د اور بځرکي دا په غوسه کوي او له ډېرو چيغو او لانجو څخه وروسته له سترګو الونيه( پټه) کېږي. د دی داستان د ليکلو ځواك او څرنګوالی د ډېرې ستاينې وړ دی.

د ګورکی د (لالهانده خلك) په کتاب کې د 1892 – 1897 کلونو کيسې راغلې دي. په دی کيسو کې هغه لالهانده او نهر (وږي) خلك ستايل کېږي چې په نه رغېدونکو رنځونو اخته دي. دا بېکوره او بې اوره خلك هغه ياغي او بې ارادې کسان دي چې د خپلو رنځونو د درمل له پاره، د داسې يوه چاپېريال د ميندلو په لټه کې دي چې دوی هلته خپل شخصيتونه ښه وپېژني او مضبوط يې کړي. دی کتاب ستر برياليتوب تر لاسه او د ګورکي نوم يې د روسيې تر ګوټ – ګوټه پورې ورساوه.

ګورکي په 1900 – 1901 کې د (درې کسان) رومان وليکه او له نامتو ليکوالانو ليو تولستوی او انتوان چخوف سره يې نژدې اړيکې ټينګې کړې. د کال 1901 په نيمايي کې ګورکي (د توفان د مارغه ترانه) وليکله. ده په دې وختونو کې د خپل ښار (نيژني نوګرد) او نورو ښارونو (سنت پيترزبورګ او سرمف) د کارګرانو په مارکسيستي کړيو کې فعاليت کاوه او دوی يې سره نژدې کول. دی په همدې کال کې د رژيم په ضد د خلکو د مبارزې د سمون په تور ونيول شو او له (نيژنی نوګرد) څخه وشړل شو.

ګورکي په 1901 او 1902 کلونو کې څو ننداری وليکلې. (په ژورو کې) هغه نامتو ننداره وه چې په څلورو پردو کې په کال 1902 کې وښودل شوه. د دی ننداري اتلان ټول بېوزله اولالهانده خلك او چاپېريال يې د ګورکي د خوښې وړ، يعنې د نېستمنو او بې کوره خلکو چاپېر دی. بويناکې او غمجنې تياره خونې چې دا خلك هلته شپې تېروي او په پرله پسې توګه شراب څښي او ځانونه هيروي؛ خو ګورکي غواړي چې د دغه ذلت، کرکې او ټيټوالي د ښودلو تر څنګ، ژوره انساني مينه انځور کړي او تيارو کړلېچونو ته د بريو وړانګې ورسوي.

د ګورکي دا ننداره د خلکو ډېره خوښه او د اروپا په ډېرو ښارونو کې وښودل شوه.

د کال 1903 په وروستيو مياشتو کې د روسيې د علومو اکاډمی، ګورکي، دده د ستر نامه په وياړ، د اکاډمۍ د افتخاري غړي په توګه وټاکه؛ خو تزاري حکومت په سياسي دلايلو دا ټاکنه و نه منله او ګورکي بيا توقيف شو. دی توقيف د خلکو عامه اذهان راوپارول، د ګورکي محبوبيت لا دير شو، د اعتراض غږونه پورته او حکومت مجبور شو چې دی پرېږدي. له دې وروسته ګورکي د سفر اراده وکړه او د امريکا متحده ايالاتو ته ولاړ.

په دی سفر کې له ګورکي سره يوه ښځه وه چې دده قانوني ښځه نه بلل کېده، دی عمل د امريکايانو غوسه وپاروله، ګورکي اروپا ته ولاړ او د ايتاليا په (کاپري) ښارګوټي کې مېشت شو. ده په اروپا کې د نيويارك په هکله د داستانونو داسې يوه لړۍ خپره کړه چې د ډېرو کلونو له پاره د روسيې ليکوالو د امريکايي ضد احساساتو سرچينه بلل کېده. په (کاپري) کې ګورکي د انقلابي مهاجرينو له پاره يو مرکز جوړ کړ او د لومړۍ نړېوالې جګړې تر پيلېدو پورې يې له سياسي هڅو څخه لاس وانه خيست. په دی کلونو کې ګورکي په نري رنځ اخته او په (کاپري) کې د طبيبانو تر معالجې لاندې و.

د نري رنځ او پرديسۍ په کلونو کې ګورکي د (مور) کتاب وليکه چې لومړی د يوې روځپاڼې په لمن کې خپور او د انقلابي توب په توسن نوموتی شو او خلکو ډېر خوښ کړ. (مور) د ګورکي يوازنی رومان دی چې د روسيې د انقلابي غورځنګ په هکله ليکل شوی او هغه مور زموږ مخې ته ږدي چې ټول عمر يې په بېوزلتوب او لوږه کې تېر کړی؛ خو حيواني سکوت يې نه دی کړی او ستونزو ته يې د تسليم سر نه دی ټيټ کړی. کله چې د دی ښځې مېړه مري، په کور کې ددې زوی د لوږې، بېوزلتيا، جهل او نورو ټولنيزو ستونزو او ناخوالو په ضد د مبارزې خبرې کوي او د نژدې کېدونکي اوښتون زېري راوړي. ورو – ورو د بوډۍ ښځې (مور) ذهن روښانه کېږي او د حق د غوښتنې او خپلواکۍ سا يې په زاړه کالبوت کې رېښې غځوي او هره ورځ د خپل زوی له ارمانونو سره نژدې کېږي. کله چې چارواکي د دې زوی نيسي او بل ځای ته يې شړي، دا د هغه تش ځای ډکوي او انقلابي دندې په مخ بيايي. تر هغې چې دا هم وژل کېږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

(مور) په روسي ادبياتو كې هغه لومړنی رومان دی چې د تولېنز ژوند ډېر بشپړ انځور وباسي او د نسكوربېدونكي حاكميت په هكله خبرې كوي. دا رومان چې په ډېره ښكلې تغزلی ژبه ليكل شوی، د ګوركي له خورا سترو آثارو څخه كنګل كېږي چې له خپرېدلو څخه وروسته يې نړيوال نوم وګاټه او د نړۍ په ډېرو ژبو وژباړل شو.

ګوركي په 1904 او 1905 كلونو كې نورې ننداري هم وليكلې: (د لمر زامن)، (وحشيان) او د (مانۍ اوسېدونكي). په 1905 كې ګوركي له لېنين سره وپېژندل. دا كال د روسيې د بورژوازۍ اوښتون (انقلاب) كال و چې په خونړۍ توګه وځپل شو. ګوركي دا وخت يو انقلابي و او خلك يې د نوامبر د نهمې نېټې د ډلوژني د غندلو له پاره پاڅون ته هڅول. حكومت ګوركي بندی كړ؛ خو د عامه اذهانو د فشار له امله ژر بېرته خوشي شو.

ګوركي په 1906 كې له روسيې څخه بهر ته ولاړ او هلته يې د امريكا او فرانسې د بورژوازي كلتور په هكله طنزونه ليكل. ده په همدی سفر كې د (دښمنان) ننداره وليكله (1906). په دی ننداره كې ګوركي په هغه روڼ آندو او بې عمله عالمانو وردانګلي چې خلك يې خپل نه بولي او پردي ورته ښكاري.
ګوركي له دې وروسته د لنډو كيسو ليكل بس كړل او د سترو كتابونو په ليكلو يې لاس پوری كړ. لكه د فوما ګورديف Foma Gordeyev نامتو رومان چې د والګا د شتمنو سوداګرو په هكله دی. د دی كتاب د حرصناكو اتلانو په مينځ كې، ګوركي (فوما) په مورِ پيژني چې ستر ميراث ورپاته دی، ډېر شتمن دی؛ خو دی د شتمنو سوداګرو د ژوند له چاپېرياڵ څخه كركه لري او ترينه تښتي. په دی كتاب كې (فوما) په يوه ميلمستيا كې، د شتمنو سوداګرو تېروتني او معايب بربنډوي؛ خو سوداګر دی ليونی بولي او ليونتون ته يې لېږي. كله چې (فوما) له ليونتون څخه وځي، خاص او عام پرې خاندي او ملنډې پرې وهي. (فوما) هر څه هيروي او خپه او لالهانده ګرځي او تل له ځانه پوښتنه كوي چې (څه بايد وكړم؟).
ګوركي له دې وروسته سن پترزبورګ ته ولاړ، هلته استوګن شو او د پوهې د خپرولو ټولنه يې جوړه كړه چې د رياليستو ليكوالو نامتو آثار خپاره كړي. په همدې ښار كې ګوركي د روسيې له سوسيال دموكرات ګوند سره يو ځای شو، ټولنيزې ستونزې به يې څېړلې او د انقلابي غورځنګ ملګری و او په خپلو ليكنو كې يې له اوښتون سره مرسته كوله. په پترزبورګ كې د ګوركي سياسي هڅې دومره پياوړې شوې چې تل د حكومت له خوا څارل كېده او په آثارو يې سانسور ولګېد. ګوركي په همدی اخ او ډب كې د (ژوند) منظومه خپره كړه چې چاروا‌كو د راتلونكي اوښتون نښه وبلله، مجله يې بنده كړه او ګوركي يې زنداني كړ. لږ وروسته ګوركي د ناروغتيا له امله له بنده خوشی شو او اجازه وركړل شوه چې د استراحت له پاره كريميا ته ولاړ شي.

له (مور) څخه وروسته بل ستر كتاب (اعتراف) دی (1908) چې د ګوركي په افكارو كې مذهبي بحران څرګندوي او داسې ښكاري چې ګوركي په دې ليكنه كې د ليو تولستوی تر اغيزې لاندې دی او له بلشويكانو سره د ده اختلاف څرګندوي.

ګوركي په كال 1908 كې د (وروستني) او (د يوه بې معنی سړي ژوند) ننداري او په 1909 كې د (نيم سوځېدلی ښار ګوټی) او (د ماتوي كوژيمياكين) داستانونه وليكل. په كال 1913 كې د ګوركي د درې ټوكيزه پنډ كتاب د خپرېدوكار پيل شو. ددې كتاب په لومړي ټوك كې چې (د ماشوموالي دوران) نومېږي، ليكوال د خپل ژوند د لومړنيو كلونو خبرې كوي چې څنګه له لوږې او بدمرغی سره لاس او ګريوان و او څنګه د خپل ظالم نيكه په څنګ كې لويېده. نيكه غوښتل چې خپل كوچنی لمسی د پخوانيو په دود وروزي. لوستونكي په دې كتاب كې د ګوركي نياويني، داسې يوه مهربانه او مومنه ښځه چې د خپل مېړه په مخ كې آهـ هم نه شي ايستلای! او هغه كورنی چې تل د نيكه له لاسه په اضطراب او وحشت كې اوسېده او خدای به كله ناكله دا خوښي ورپه برخه كړه چې د نيكه په نشتوالي كې جشنونه جوړ كړي، وناځي او وخاندي!
ګوركي په دې كتاب كې دا وايي چې دده د داستان اتل چې دی خپله دی، څنګه لويېږي او ستركې يې د ژوند او بهرني چاپېرياڵ په مخ پرانستل كېږي. له بده مرغه چې دی بې له بدمرغی او ستونزو څخه بل څه نه ويني. داسې ستونزې چې د لكونو خلكو ملاوې يې كروپې كړي دي.
د (ماشومتوب دوران) د ګوركي داسې شهكار دی چې د روسيې د نولسمې پېړۍ د وروستيو كلونو د لوږې، بېوزلتوب او ستونزو له درده ډك او ډېر رښتياني انځور وباسي. د دی كتاب دويمه برخه (د ډوډۍ په لټه كې) نومي چې په كال 1916 كې خپور شوی او دريمه دا (زما پوهنځي) دي چې په كال 1923 كې خلكو ته ورسېد. په دی كتاب كې د ګوركي د ځواني د هغه وخت كيسې راغلي چې دی قازان ته ځي چې هلته پوهنتوني زده كړې وكړي او د ژوند له پاره يې د (والګا) په بندر كې كار كاوه. ده ځان د هغه وخت د كارګرانو په هغه ستره غوسه كې شريك باله، چې د مالكينو په وړاندې په پرله پسې ډول پياوړې كېدله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ګورکي په دې کتاب کې د محصلینو د ژوند، په انقلابي ټولنو کې د هغوی د ګډون، د عدالت او نوي نظام له پاره د هغوی د انقلابي فعالیتونو، له زده کړې او مطالعې سره د خپلې نه تمامېدونکې مینې او د خپل ژوند او چاپېریال په هکله ډېرې خوږې کیسې لیکي او لوستونکي په ساعتونو بوخت ساتي. دا کتاب په حقیقت کې داسې یو نندارتون دی چې د روسیې د هغه وخت د ډېرو سترو شخصیتونو انځورونه پکې لیدل کېږي.

له روسي لیکوالو سره د ګورکي د لیدنو – کتنو خاطرې هم ډېرې ښکلې دي. لکه له تولستوی سره د ده لیدنې – کتنې او داسې نورې.

ګورکي ته په کال 1913 کې بېرته روسیې ته د ستنېدو اجازه ورکړل شوه. ده په خپل غبرګون کې وضع دومره ګډه وډه او بې خونده ولیده چې دی یې اریان کړ؛ ځکه یې متې ونغښتې چې د روسیې د فرهنګي ودې له پاره کار وکړي، ده د (هنر کور) ټولنه جوړه کړه او د (نړېوال ادبیات) مجله یې خپره. د روسیې ډېر لیکوال او شاعران به په دې کور کې ټولېدل او د ډېر کار له پاره به چمتو کېدل . ورو – ورو ګورکي د هغه پل بنه غوره کړه چې د روسیې د تېرو وختونو د کلتور او د نوي زېږېدلي شوروي اتحاد تر منځ یې پیوستون راووست؛ خو ده له بلشویکانو سره د نوي نظام د استقرار په لارو چارو کې ژور اختلاف درلود او له پخوانیو روسي مخورو او روڼ اندو سره یې، د نوي رژیم د چارواکو او کارکوونکو په ناوړو کړو وړو باندې انتقادونه کول.

ګورکي په 1919 – 1921 کې د شوراګانو په نوي هېواد باندې بهرنی مداخلې په کلکه غندلې او په عین وخت کې یې رژیم د شوراګانو د ځواك د پراختیا په کار کې د تاوتریخوالي له امله پر باله او په زغرده یې انتقاد پرې کاوه. په کال 1921 کې ګورکي د ډېر کار او فکري ستونزو له امله کمزوری شو او ځان ورته ناروغه ښکاره شو. لینین له ده څخه وغوښتل چې د هوساینې او استراحت له پاره ایتالیا ته ولاړ شي. ګورکي تر 1928 پورې د ایتالیا د (سورینتو) په ښار کې پاتې شو.

ګورکي په ایتالیا کې د خپل ځان او ژوند په هکله خپل نامتو دري توکیز کتاب او څو ننداري ولیکلې. ګورکي په کال 1925 کې د (د آرتامانوف یانو دوسیه) کتاب ولیکه چې د هنر په څنګ کې یې ټولنیز هدفونه درلودل. ګورکي په دې کتاب د پېښو په بهیر کې د زاړه نسل د وروستوالی (پوسیده ګي) او فاسیدېدلو او د نوي نسل د پیدایښت خبرې کوي او د (بابا)، (زوی) او (لمسی) په وجود کې درې تاریخي دورې بیانوي. لومړی د دویم الکساندر (تزار) د ټولنیزو سمونونو(اصلاحات) او د مربیتوب د لغو کېدو دوره، دویم د هېواد د صنعتي کېدلو پړاو چې کارخانې جوړېږي او پانګوال نظام په پښو درېږي او دریم د شلمې پیړۍ پیل او د انقلابي ولولو دیریدنه. د (آرتامانوف) رومان د لیکوال د فکر د پراخوالي، ژور ټولنیز او ساپوهنیز (رواني) تحلیل او د قلم د ځواك ښه ښکارندوی دی او د ګورکي له غوره کارونو څخه شمېرل کېږي. له دې وروسته ګورکي (د کلیم سامګین ژوند) د ستر کتاب په لیکلو لاس پورې کړ (1924 – 1926). په دې کتاب کې چې څلور ټوکه یې خپاره او نور نیمګړي پاته شول، ګورکي د روسیې د 1870 – 1924 کلونو د معنوي او فرهنګي ژوند انځور ویست او د روڼ اندي توکم (طبقه) د تدریجي فساد (وروستوالي) او غلطو عقایدو کیسې کوي.

ګورکي په کال 1928 کې د شوروي اتحاد د دولت او په تېره بیا ولسمشر جوزف ستالین په غوښتنه ماسکو ته ستون شو. شوروي دولت غوښتل چې ګورکي ته د نوی حکومت (لاس ته راوړنې) وښیي.

ګورکي د دې سفر خاطرې په ایتالیا کې (شوروي اتحاد ته یو ځغلند نظر) تر عنوان لاندې خپرولې.

ګورکي په کال 1931 کې بیا او د تل له پاره شوروي اتحاد ته ستون شو. ګورکي ژر د شوروي اتحاد د لیکوالو ټولنه جوړه کړه، ډېرې خپرونې او مجلې یې پیل کړې او (د سترو انسانانو ژوند) د لړۍ د کتابونو په خپرولو یې لاس پورې کړ. په کال 1934 کې ګورکي، د شوروي اتحاد د لیکوالو د ټولنې مشر، د ټولنې ستره کنګره راوبلله او د کنګرې اصلي رپوټ یې ورته وړاندې کړ. ګورکي په دې دریو کلونو کې ډېره هڅه وکړه چې د خپلې ادبي ګروهې (عقیده) اصول (سوسیالیستی ریالیزم) له خلکو سره شریك کړي او ډېر پلویان ومومي.

ګورکي د کال 1936 د جون په اتلسمه نېټه په مسکو کې مړ شو او په (سره ډګر) کې د شوروي د نورو مشرانو تر څنګ خاورو ته وسپارل شو.

تر اوسه لا هم د روسیې په ادبي کړیو کې د ماکسیم ګورکي د دوه ګوني شخصیت ستونزه نه ده حل شوې. له یوې خوا ګورکي د ستالین په وخت کې په ایتالیا کې ګوښې (انزوا) ژوند کاوه؛ خو په عین حال کې هغه روسي پوهانو او لیکوالو ده ته په ښه سترګه نه کتل، چې له انقلاب څخه وروسته، د شوراګانو له نوي واکمنی څخه لویدیځ ته تښتدلي وو او ګورکي په خپله هم شوروي اتحاد ته نه شوای تللای. روسي کره کتونکي وایي چې د ګورکي یوازنی انقلابي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اثر (مور) نومېږي. په نورو آثارو کې ګورکي ټولنيزې ستونزې سپړي؛ خو د انقلاب په کلونو کې هم کارګري حکومت ډېر نه ستايي.

دا کره کتونکي وايي چي ګورکي هېڅکله رښتياني کمونست نه و، له همدې امله په ايتاليا کې يوه نامتو روسي شاعر (خاداسيويچ) ورته ويلي و چي (يا له بلشويکانو څخه په نره ښېل شه او يا ځان ښه په لوړه بيه پرې خرڅ کړه) او ده دويمه لاره غوره کړه او بېرته شوروي اتحاد ته ستون شو.

دولتي چارواکو دده پرتمين هر کلي وکړ؛ خو دا هسې يوه لومه وه چي ګورکي ډېر وروسته پرې پوه شو. ګورکي په ماسکو کې په يوه دولتي مانۍ کې ځای په ځای شو.

د دې مانۍ څلورو خواوو ته فرعي لارې وې. هره شپه له دې فرعي لارو څخه د هغه روسي روڼ اندو او ټولنيزو فعالينو مېرمنو، چي خپله د ستالين د استخباراتو او پوليسو له خوا بنديان شوي وو، ګورکي ته د مرستي ليکونه غورځول.

د ګورکي د مانۍ ساتونکو به هر سهار دا ليکونه ټولول او استخباراتو ته سپارل.

يوه ورځ  ګورکي ستالين ته وويل چي غواړي سياسي بنديان ووېني. ستالين دا غوښتنه ومنله او ګورکي يې يو جېل ته واستاوه. له کتنې څخه مخکي جېل ښه پاك شوی او په ټولو سياسي بنديانو کتابونه او ورځپاڼي وېشل شوې وو.  د دې کتنې مستند فلم اوس هم په روسيه کې شته. بنديانو ګورکي ته د خپل ژوند د اصلي واقعيت د ښودلو له پاره، ورځپاڼي او کتابونه (سرچپه) لوستل، ويل کېږي چي د ټول سانسور سره – سره دا فلم همغه وخت هم په روسيه (شوروي اتحاد) کې ښودل شوی و!
کله به چي يو څوك د ستالين په وخت کې بندي شو، ښځه به يې له ورته( مشابه) برخليک سره مخامخ کېده، يا به بندي کېده يا به شړل کېده او يا به وژل کېده! د داسې ښځو ماشومانو له خپلو ميندو څخه هم ناوړه برخليک درلود. هغوی به دولتي پالنځايونو ته بېول کېدل چي هلته د شوراګانو د هېواد او ستالين سره مينه پيدا کړي او خپلي ټولي پخوانۍ اړيکي له لاسه ورکړي. دې ماشومانو ته به پوره ډوډۍ نه ورکول کېده. يوه ورځ ګورکي داسې يو پالنځی ته لاړ. په پالنځي کې هر څه سم او ماشومانو ته ويل شوي وو چي (ګورکي اکا) ته څه ووايي؛ خو يو ماشوم پاڅېد او وې ويل:

- (اکا) دوی تا غولوي. دا زموږ اصلي ډوډۍ نه ده!
ډېر ژر وتښتول او ماشوم همغه ورځ په ګولو غلبېل شو!
د ګورکي له پاره به د شوروي اتحاد نامتو روځپاڼي په يوه ګڼه کې خپرېدې. دا روځپاڼي به له هغو څخه چي خلکو لوستې، پوره توپير درلود. ويل کېږي چي ژوند په آخرو روځو کې ګورکي په دې پوهېدلې و چي له ده څخه ناوړه استفادې شوې او غولول شوی دی او ستالين ته يې وويل چي (ستاسو رذيلانو په مينځ کې زه هم پست شوم)؛ خو له دې ټولو سره – سره ګورکي داسې يو ديوال و چي د روسيې ډېر هغه روڼ اندي او ليکوال يې چي (کمونستي) فکر يې نه کاوه، د ستالين له منګولو څخه وساتل. دا ګورکي و چي له ستالين څخه يې د ميخايل شولوخف، د ستر کتاب (آرام دون) د خپرېدلو اجازه تر لاسه کړه. همدا شان ګورکي د روسي په لسګونو بندي ليکوال د ستالين له جڅخه خلاص کړي دي.
ګورکي د چخوف په شان د نولسمي پېړۍ د دوهمي نيمايي د سترو رياليستي ادبياتو يوه نه هېردونکي څېره ده او داسي يو څوك دی چي د شوروي اتحاد د نويو ادبياتو اتل هم ګڼل کېږي چي له سوسياليستي رياليزم څخه يې په کلکه ننګه کوله. ګورکي د بېکوره، بې اوره، بېوزله او ستومانه خلکو د ژوند انځورګر دی. دده نړۍ د بېوزله او نهرو خلکو نړۍ ده.
ګورکي د عمل او خوځښت سړی و. ګورکي دومره لوی ليکوال او مفکر تېر شوی  په شوروي اتحاد کې نه ځاييده، عالمګير شو او کتابونه يې د نړۍ په ډېرو ژبو وژباړل شوي چي په مليونونو توکه خپاره شوي دي.
په افغانستان کی هم د ګورکی د اثارو ډېر مينه وال شته. ۶-۵ لسيزی مخکی د ګورکی هغه کتابونو کابل ته ورسيدل چی ايرانی ژباړونکو به ژباړلی و؛ خو وروسته د ماسکو نووستی ټولنې او د افغانستان د ليکوالو ټولنی هم هغه کتابونه خپاره کړل چی زموږ فرهنګی شخصيتونو په پښتو او دری ژباړلی وو.
مننه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ